# د پښتنو اصل نسل

(وړومبے جلد)

## يو نوے فکر او نظر

پروفېسر ډاکټر فضل الرحيم مروت

"With the patriarchal family we enter the field of written history" (Marx and Angels)

ترجمه: "مونږ د پدرسري خاندان سره ليکلي تاريخي مېدان ته راننوځو" (مارکس او اينګلز)

د پښتنو د اصل نسل په حقله په پښتو ژبه کښې زمونږ ګران او مشر ليکوال، شاعر، اديب او نقاد سعدالله جان برق صاحب يو نوے کوشش کړے دے او دا صرف يو کوشش نۀ دے بلکې زمونږ ليکوالو او په خصوصي توګه ئې تاريخ نويسانو او تاريخ پوهانو ته يوه نوې لاره هم ښودلې ده. تاريخ ليکل يا نقل کول په خپله ډېر زوړ تاريخ لري خو فرق د قديم او د جديد دا دے چې مخکښې به تاريخ صرف د هغه واقعاتو نقل کول وو چې بادشاهانو سره تړلي وو، د باچا شجرۀ نسب، د هغۀ کارنامې يا د عروج او زوال اسباب وغېره وغېره. هغه وخت تاريخ ليکونکيو تاريخ يا په دربار کښې ليکلے دے يا د چا په ضد ليکلے شوے دے خو په هغې کښې د عام اولس بالکل ذکر نشته يا د خاص علماؤ، وزيرانو او قاضيانو ذکر دے او بله خبره دا چې له بده مرغه تر اوسه په شجرو غوندې ضروري څيز کښې د ښځو بالکل ذکر نۀ وي او کۀ وي نو هغه به د نشت برابر وي خو د وخت تېرېدو سره سره تاريخ هم د يو ځانګړي سائنسي او ښېل علم په توګه رامخ ته شو خو له بده مرغه زمونږ پښتنو کښې د ډېرو وجوهاتو په وجه تاريخ د يو زوړ او رواجي قيصو په شان پېژندلے شوے او ليکلے شوے دے. زۀ نن ډېر خوشحاله شوم او د هغې وجه دا ده چې د پښتنو تاريخ په پښتو ژبه او د پښتون ليکونکي ليکلے ګورم او ډېره خوشحالي په دې محسوسوم چې بايد زمونږ پښتنو يا افغانانو کښې د خود شناسۍ يا ځان پېژندنې (Self Identity) احساس راپېدا شوے دے او دا احساس يو نوے قومي سوچ او قومي وحدت ته وده ورکوي.

محترم سعدالله جان برق صاحب خپل نوي کتاب "د پښتنو اصل نسل" (وړومبے جلد) کښې په څلورم باب "تاريخ څۀ شے دے؟" د عنوان لاندې د ډېرو سوالونو جوابونه کوي چې کوم د چا په ذهن کښې راپېدا کېږي يا راپېدا کېدے شي. د خپلې کم علمۍ او د سائنسي تحقيق او څېړنې نه ناخبرتيا يا په دې کښې د علمي ډګرۍ نۀ لرلو خبره په ډاګه کوي خو د ډېرو ټولو انکشافاتو باوجود برق صاحب کوشش کړے دے چې تاريخ دې له ډېرو مالائي

(Mythology) قیصو نه بېل کړي (گو چې د دېومالائي قیصو اهمیت په خپل ځائے تسلیموي). حقیقت او افسانې کښې فرق ښیي، علمي، نسلي، انساني کمزورۍ او ناخبرۍ د تاریخ په لیکلو کښې خنډ گڼي او مذهبي تنگ نظري، فرقه وارانه تعصب، د مذهب حقیقت او الهام په صحیح تاریخ لیکلو کښې څۀ نور اغزن خنډونه دي. برق صاحب کوشش کوي چې ځان سره نور پښتانۀ هم د تعصب دنیا او د تیارو او د خړو اوبو نه راوباسي او یوه نوې دنیا او نوې لار چې بنیاد ئې په سائنسي دلیلونو او تحقیق ولاړ وي، هغه تاریخ لیکونکیو او ویونکیو ته وښیي دې سره سره د خپل وخت حاکمانو، سردارانو، راهبانو، عالمانو او سیاست مدارانو تاریخ د خپلو گټو دپاره استعمالولو په حقله هم ډېر پاخۀ دلیلونه وړاندې کوي. برق صاحب دغه باب کښې لیکي چې:

"مجبوري دا ده چې داسې اکثر لیکوال او عالمان د انساني حاجتونو او کمزورو ښکار وي نو د خپل لالچ دپاره یا د چا د خوشحالولو دپاره حقائق مات گوډ کړي او د دې غټې ثبوتونه زمونږ په وړاندې د هغه تاریخونو کتابونو او تحقیقونو په شکل کښې موجود دي چې د بادشاهانو، امیرانو، سردارانو او شتمنو خلقو په غوښتنه لیکلے شوي دي. ظاهره ده چې د چا په غوښتنه څۀ لیکلے شي نو د هغۀ د قام، قبیلې، مشرانو او مذهب په حقله به خو نۀ شي لیکلے او چې د تعریف ئې صله ملاوېږي نو ښه ډېره گوره پکښې واچوي. د پیش نه پشم خان جوړ کړي، د گیدړ نه ازمرے او د شیطان نه فرښته جوړه کړي او دغسې ئې مخالفینو سره هم سلوک وکړي. داسې ډېر کم تاریخونه شته چې د چا بادشاه یا حاکم په خوښه نۀ وي لیکلے شوي، د چا قام دپاره نۀ وي لیکلي شوي یا د یو مذهب د مرستې یا دښمنې دپاره نۀ وي لیکلي شوي. دې سره سره د مؤرخ او لیکونکي خپل مذهبي، نسلي، جذباتي او وطني تعلق هم شامل وي. د هر مذهب، هر قوم، هر نسل لیکونکي د حقائقو په ځائے د جذباتو ښکار شي."

برق صاحب د ترخې خبرې معافي غواړي خو زۀ د تاریخ د طالب علم په حېث دا خبره په دعوې سره کوم چې برق صاحب د جرأت مظاهره کړې ده او علمي خبره یا خیال پټول ئې گناه گڼلې ده او خپل پښتون قام ته ئې د رښتیا وئیلو اوربدلو نصیحت کړے دے. د برق صاحب په لیک کښې ځنې ځائے کښې مارکسي اپروچ هم ښکاري خو هغه مارکسستې اپروچ نۀ دے بلکې اکېډېمک اپروچ دے او غېر روایتي دے. په پټو سترگو لیکل نۀ بلکې دروغ او رښتیا بېلول او په سائنسي بنیادونو باندې تحقیق په مخه بوتلل د برق صاحب مرام دے. برق صاحب د خپل کتاب په ۵۵ مخ د بدلون (Change) ذکر داسې کوي:

" داسې (کۀ) د دنیا په ټولو لویو واقعاتو او تاریخي پېښو او انقلابونو نظر واچوئ (نو) بنیادي وجه به ئې هم دغه وي. دا بېله خبره ده چې نوم پرې د چا بادشاه، جرنېل یا سردار وشي. اصل د تبدیلیو بنیاد هغه عوام وي چې تاریخ ئې هډو نوم نۀ اخلي. خلیل جبران یوه ډېره ښه خبره لیکلې ده چې په یو ځائے کښې یو پُل جوړ شو، پرې باندې ئې ولیکل چې دا فلاني بادشاه جوړ کړو او د هغو خلقو او مزدورانو چا ذکر هم ونۀ کړو چې د دغه پُل د جوړېدو په دوران کښې مړۀ شوي وو."

برق صاحب هم په دغه باب کښې د تاریخ ضرورت باندې هم بحث کړے دے او د تاریخ لیکونکیو او ویونکیو باندې ډېر ټینګار کوي او لیکي :

"چې د تاریخ مونږ ته ضرورت څۀ دے؟ په دې نوي د ور کښې ډېر خلق دا خبره کوي چې کوم پرون تېر دے، هغه تېر دے، زاړۀ مړي ژړل نۀ دي پکار، بلکې وړاندې کتل پکار دي نو د دې په حقله زۀ دومره قدرې ووایم چې دا قطعي یو غلط، بلکې بیمار سوچ دے. تاریخ د یو قوم یادداشت وي. لکه څنګه چې یو فرد دپاره یادداشت ضروري وي، دغسې دېو قوم دپاره تاریخ ضروري وي. کۀ انسان چرې داسې شي د روان وخت نه وروسته هر څۀ هېر کړي او صرف د لمحه موجود مالک شي، دا ترې هېر شي چې پرون ما څۀ کړي وو، نو دا به هم ترې هېر شي چې زۀ څوک یم، مور پلار مې څوک وو او کور کلے مې څۀ ؤ؛ د کومې نه راغلم او کوم خوا به ځم نو انسان خو هېڅ پاتې نۀ شو. نن ماته ځان هم یاد نۀ دے چې زۀ څوک یم، څۀ مې نامه ده او تر اوسه مې څۀ څۀ کړي او لیدلي دي. نو زۀ خو به یو قدم هم وړاندې لاړ نۀ شم، ولې چې د مستقبل وجود د حال نه او د ماضي نه بغېر هډو ممکن نۀ دے."
(۵۸ مخ)

برق صاحب هم دغه باب کښې یوه ډېره اهمه نقطه په ګوته کوي چې زمونږ د خلقو ولې تاریخ لوستلو سره شوق نشته او زمونږ تعلیمي نصاب کښې ولې خپل تاریخ نشته آیا چرته داسې خو نۀ ده چې د پاکستان خپل تاریخ نشته او نصابي تاریخ هم د نورو خلقو او زمکو نه ډک دے.

یو بل باب "د پښتنو تاریخ" کښې هغه یوه بله دلچسپه خبره کوي چې المیه دا ده چې د پښتنو تاریخ د اولې ورځې نه لیکلے شوے نۀ دے بلکې جوړ کړے شوے دے او د تحقیق نه زیات پکښې د تخلیق نه کار اخستے شوے دے. په دې حقله ماته د خپل ماشوموالي یوه خبره په زړۀ کېږي چې عبدالحلیم اثر افغاني صاحب په لکي مروت کښې د ډاکټر چراغ حسېن شاه صاحب سره مېلمه ؤ، هغۀ هلته د یو متنازعه زیارت یا قبر په مراقبې یا کشف هڅه وکړه او د هغۀ په خیال دا معلومه شوه چې قبر کښې څوک دے. مطلب مې دا دے چې زمونږ تاریخ له خوب او خیال کتلو نه هم جوړ کړے شوے دے او صرف دا چې خپل سوچ یا مراقبه مو د خپل تاریخ منبع ګرځولې ده.

برق صاحب مشهور مُغل تاریخ دان محمد قاسم فرشته باندې هم تنقید کوي، ځکه چې هغه هم نۀ صرف د پښتنو د اصل نسل په حقله د غلط بیانۍ نه کار اخستے دے، بلکې ځنې ځایونو کښې ئې د عام معیار نه ښکته او غورځېدلې خبرې لیکلې دي. د فرشته ټولې غلطۍ غېر مدللې خبرې برق صاحب ډېرې مدللې طریقې سره غلطې ثابتې کړې دي.

برق صاحب د نعمت الله هروي "مخزن افغاني یا تاریخ خان جهاني" باندې هم ډېرې ښې او مدللې طریقې سره تنقید کوي او خاص کر د پښتنو شجره نسب باره کښې د ډېر شک و شباهت اظهار کوي او د نعمت الله هروي د لاسه د اسرائیلي تیورۍ بنیاد غلط ثابتوي ګویا چې پښتانۀ بني اسرائیل د دولسو وروکو شویو قبیلو اولاد دے. بله د حېرانۍ خبره دا ده چې دا شجره تر آدم (ع) پورې رسېدلې ده.

کۀ يو طرفته وګورو د مغلو حکمرانانو او سردارانو په ځواب کښې داسې تيوري راوړل يو ډېر ښۀ قدم ؤ خو بل طرف ته د هغې نه پس هر سړي بغېر له څۀ تصديقه چې د پښتنو د تاريخ ليکلو هڅه کړې ده، دغه شجره ئې من و عن نقل کړې ده او د ځينو خلقو دا خيال هم دے چې يهوديانو يا اسرائيلو هم دې تيورۍ ته دوام ورکولو کښې خپل رول لوبولے دے، ځکه چې دوي دنيا ته ښودل چې په مسلمانانو کښې يوه غټه برخه (پښتنو يا افغانانو) شجره هم د دوي سره تړلې ده.

برق صاحب ليکي چې قادياني لټرېچر کښې هم کشميريان او پښتانۀ بني اسرائيل ګڼلے شي، ځکه چې د دوي په نزد عيسیٰ (ع) کشمير ته راغلے ؤ.

برق صاحب يوې بلې خبرې ته هم اشاره کوي چې هر سړے د خپل پلار نيکۀ مېراث او جائداد باندې فخر کوي او د "پدرم سلطان بود" خبره له پخوا راهسې دغه شان راروانه ده. خو د حېرانۍ خبره دا ده چې يو طرفته خپل پښتون ورور کسب ګر، لوهار، ترکاڼ او ډم بولي خو بل طرفته په مونږ کښې داسې هستۍ شته چې هغه په ختم پښتانۀ نۀ وو خو اصلي يا وصلي پښتانۀ وګرځېدل لکه بايزيد (انصاري) (پير روښان)، سيد علي ترمذي (پيربابا) وغېره وغېره. دلته زۀ يوه بله خبره کول غواړم چې د يهوديانو ځيني خويونه او خصلتونه او ځينو کامن (مشترک) نومونو د اسرائيلو تيورۍ ته وسعت ورکړے دے. د مثال په توګه د پښتنو يا افغانانو سودي کاروبار چې هغه سلسله کښې دوي تر بنګاله رسېدلي وو او اوس هم مليشيا او د هندوستان په ډېرو برخو کښې هم دغه شان کار کوي او له دې نه علاوه لکه تخت سليمان، خيبر او د خالي ورځ وغېره وغېره.

بله وجه چې کومه ماته مهمه ښکاري هغه شجره نسب اسلامي روحاني شخصيت، پېغمبر يا مسلمان بادشاه يا سردار وغېره سره تړليو کښې د زمکې او جائداد مسئله هم وه او دا ځکه چې د جائداد وراثت کښې غټه برخه نرينه اولاد پسې ځي او دې سلسله کښې د ښځو د شجرۀ نسب نه ښېځي ويستل هم شايد په دې وجه وي.

برق صاحب خپل کتاب کښې د اسرائيلو ورکو شويو قبيلو باندې هم تفصيلي بحث کړے دے او دا ذکر هم کوي چې د اسرائيلي قبيلو نه مخکښې يوناني مؤرخينو د پښتنو يا افغانانو ذکر د افغانستان سيمه کښې کړے دے.

بله ښه خبره د برق صاحب د انجيل او د تورات حوالې دي. دۀ دا کوشش کړے دے چې په خپله د دېو کتابونو مطالعه وکړي او د بل چا نه په راخستې حوالې تکيه ونۀ کړي او اخر کښې ګران ليکونکے په دې نتيجه رسي چې هغه هم ډېرو تاريخ نويسانو يا غلط يا د بل په حواله غلط رانقل کړي دي او د قيس عبدالرشيد او د هغۀ دوه اويا/درې اويا کسانو سره عربستان ته تګ هم د يو سواليه نشان په توګه رااوچت کړے دے او اخر کښې په دې نتيجه رسېدلے دے چې دا دوه اويا/ درې اويا کسانو د جرګې اولاد اخر څۀ شو؟

برق صاحب د نوح د طوفان ذکر هم کوي او کۀ واقعي دغه طوفان په ټوله اباده نړۍ ؤ نو د بابل ښار پکښې څنګه بچ شو. برق صاحب د پښتنو د نسل په حقله په اريائي نظريه هم بحث کړے دے او د دې نظريې ملاتړ چې کومو پښتنو ليکونکيو کړے دے هغه پوره لستې ئې هم ورکړے دے. د برق صاحب د

کتاب یو دلچسپ باب ثنویت دے هغې کښې ګران لیکوال د تضاداتو ذکر کړے او ډېر مدلل انداز کښې ازلي او ابدي، روحاني او مادي تضادانو ذکر کوي. د خدائے او شېطان نه راواخله د شپې او ورځې تضاد پورې د هر مکتبهٔ فکر، مذهب، جمادات، نباتات او حېوانات وغېره وغېره کښې تضاد ذکر کوي.

د برق صاحب یو بل باب خالق او تخلیق تکوین هم ډېر دلچسپ دے او اخر کښې هغه لیکي:

"علامه نیاز فتح پوري او نور ټول عقل پرست عالمان وائي چې معبود یا خدائے یا دېوتا د انسان د خپلې کمزورۍ پېداوار دے. دے کمزورے ځ نو ځان له ئې یوه اسره پېدا کوله او خپلو غلطیو له ئې د ابلیس نوم ورکړو.

برق صاحب مذهبي او روحاني نظریو، مذهبونو، عروج و زوال او هغې کښې فرقه پرستۍ نه علاوه عقلي او مادي نظریاتو باندې هم یو باب لیکلے دے، هغې کښې دے مونږ ته ښیي چې مادي نظریات یونان ته څنګه خوارهٔ شول او سیاسي شکل ئې څنګه اختیار کړو. د افلاطون، ارسطو او نور یوناني فلاسفرانو ذکر هم په تفصیل سره کوي. برق صاحب د مسلمانانو، مفکرینو او فلاسفرانو ذکر هم په تفصیل کړے دے او علمي ترقي د علم عمرانیات او فلکیاتو کښې چې د مسلمانانو کوم پرمختګ یا اولین توب دے هغه هم ذکر کوي او ډېر ګڼ نومونه ئې لیکلي دي خو شاید برق صاحب ته پته نهٔ وه چې د ابو رېحان البېروني د ټولو کارنامو د ذکر باوجود هغه لویه کارنامه د اېتهې قوت تیوري ده. البېروني دا تیوري د غزني یو ورکوټي کلي کښې بیان کړې وه چې شلمې پېړۍ کښې ورباندې پاکستاني سائنسدان ډاکټر عبدالسلام یو بل کس سره په فزکس مېدان کښې د نوبل انعام واخستهٔ، دا خبره کتابي نهٔ ده بلکې د ډاکټر سلام نه ما په خپله په بروناټي دارالسلام کښې په یو لیکچر کښې اورېدلې ده.

برق صاحب د یورپ د ترقۍ په باره کښې واضح لیکلي دي چې یورپ د علم طلب وکړو خو ډېرو انقلاباتو نه پس ترقیافته نړۍ له بده مرغه د علم و دانش لارې بندې کړې او په خاصه توګه مسلمانانو د اجتهاد لاره پرېښوده او صرف په دې خوشحالېږي چې مونږ سره الهامي علم شته. زمکه او اسمان خدائے پېدا کړي دي او دې کښې به صرف او صرف د خدائے قانون یعنې شریعت نافذ کېږي خو د افسوس خبره دا ده چې د هر سړي شریعت جدا او هر عالم مولانا او هرې فرقې یو بل سره په شریعت اتفاق نشته، دلته یوه بله خبره هم ضروري ده چې څهٔ وخت د یورپ مذهبي جنونیت د کلیسا له غلامۍ نه ووتل نو ترقي ئې شروع کړه.

د برق صاحب په کتاب کښې د یو باب د آدم پېدائش او د اسلام سره تړلې ټولو خبرو باندې ډېر بحث هم شوے دے او اوس هم ورباندې خبرې کېدے شي. خو د ارتقاء سوال جواب چې څنګه مخکښې مشکل ؤ هغه شان اوس هم مشکل دے او برق صاحب اولنی جلد کښې خپله هم په دې نتیجه رسېدلے نهٔ دے چې آیا مونږ د آدم علیه السلام اولاد یُو یا د ډارون تیوري سهي ده یا بالکل غلطه او قیامت آیا یو دے یا ډېر تېر شوي دي دا لا بل سوال دے خو د ارتقاء سفر روان دے کروړونه کاله وشو او چې لا نور به څومره وي، چې کائنات وي، انسان وي، حېوان وي ډېر څهٔ به وکوري او ډېر څهٔ ئې کتلي دي خو آیا مونږ پښتانهٔ یا

افغانان به د خپل ځان نه خبر شو؟، خبرتيا د پاره علم ضروري دے، د ادارو ضرورت دے، د تحقيق ضرورت دے، د اتفاق او اتحاد ضرورت دے، په خپله خاوره د خپل اختيار ضرورت دے آيا دا مونږ سره شته؟ ځکه چې انډيا آفس لائبريري (لندن) کښې ډېرې علمي خزانې پرتې دي خو چې کله ما پکښې کار کولو نو زمونږ جيب کښې دومره پېسې نۀ وې چې فوټو کاپي ورباندې وکړو او زمونږ په مقابل کښې چينيانو او د نورو ډېرو هېوادونو خلقو به روزانه د زرګونو روپيو فوټو سټېټ کولو او اخر کښې زۀ دا وايم چې مونږ پښتنو کښې چا سره پېسې دي د هغوي علم او تحقيق سره شوق نشته او چې چا سره پېسې نشته هغه د علم په تلاش کښې سرګردانه ګرځي. ▪